# د پښتو د ادب یو څو ورکي پاڼي[1]

له ډیرو کلو راهیسي په هیواد کښې د پښتو ادب د ټولونې او تاریخ لیکو نهضت شروع شوی دي، او په دې لار کښې د پښتنو شعراو دوه جلده سوانح او آثار پښتو ټولنی خپاره کړه، پټې خزانې هم ډیر خفایا لڅ کړه، او د کابل په مجله کښې دا څیړنه جاري ده.

په دې کالنۍ کښې زه د پښتو ځیني مهم او نادر آثار چه د لندن په بریټش موزیم کښې ساتلي دی، یو ځای ښیم او په دې مقاله کښې د پښتو د ادب ځیني نیمګړي تاریخی معلومات بشپړ کوم، ځکه چه د پښتانه شعراء د لیکو پر وخت دغه معلومات زما څخه نه وه، نو ښه ده، چه اوس لږ څه پسې تکمیل شي.

(حبیبی)

## مأخذ

تر هر څه دمخه د دې مقالې مأخذ او د معلوماتو منبع ښاغلیو لوستونکیو ته معرفی کوم، په دې مقاله کښې ما نور مراجع او مآخذ ندی کتلي فقط له یوه

١. د کابل کلنۍ ١٣٢٣، ص ١٣٧ - ١٥٩.

کتابه څخه مي استفاده کړيده، دا کتاب د برطانيا د موزيم د قلمی نسخو فهرست دي. چه د مراتهی، او ګجراتی او بنګالی او سندهی او پښتو قلمی نسخو ښوونه کوي، او په ۱۹۰۵ع په لنډن کښې چاپ شوی دی، چه د لنډن د يونيورستی کالج د هندی ژبو پروفيسور د اکسفورډ د پوهنتون د بنګالی معلم بلومهارت M.A. Blumhardt له خوا ليکل شوي دی، د کتاب په سر کښې د برطانيا د موزيم د شرقی کتابو ساتونکی يوه مقدمه ګی ليکلې او بيا پخپله مؤلف له هغو کتابو څخه بحث کوي، کوم چه په دغه فهرست کښې داخل دي. دلته ئې هغه کرښې چه په پښتو اړه لری را اخلم.

"پښتو قلمي نسخې چه په دغه فهرست کښې ذکر کيږي، هغه شپيته کتابونه دي، چه ميجر راورټی او ډوکتور ډارمستتر، او ريو، او هيوز ټول کړی دي، او په دغو کښې دوه د افغان مهم تاريخی کتب هم شته، چه مخصوصاً د يوسفزو په طايفو اړه لري، او طبع شوی ندي، يو تاريخ مرصع (نمبر ۹-۱۱) دی، چه افضل خان خټک کښلي او بل هم (نمبر ۱۳) تواريخ رحمت خانی دئ، چه پير معظم شاه ليکلی دی. نور مهم کتب د پښتو ګرامر او لغت دی، چه په دغو کښې رياض المحبت او عجايب اللغات (نمبر ۱٤-۱۵) دي، چه لمړی د محبت خان له تأليفاتو څخه شميرل کيږي، او دوهم اللهيار خان د حافظ رحمت زوی کښلي دی، او دواړه طبع شوی ندي.

په دغه کتابو کښې (له نمبر ۲-٦) پوري د اخوند درويزه پنځه جلده مخزن اسلام او د نورو شاعرانو پښتو آثار هم شته، چه اکثر غير مطبوع دي، او (نمبر ۳۳) د احمد شاه درانی ديوان د يادولو وړ دی. دغسي هم د افضل خان "عيار دانش" او د عبدالقادر خان د سعدی د ګلستان پښتو ترجمه چه نثر او نظم برخي لری (نمبر ٤٦-٤۷) او بله ترجمه په نظم کښې د امير محمد

انصاری له خوا شویده (نمبر ٥٤) چه د عبدالقادر خان د ترجمې یوازي لمړی باب په ګلشن روه کښې نشر شویدی."

د فهرست مؤلف د پښتو قلمی نسخو دغوني بحث په مقدمه کښې کوی، وروسته چه د نسخو د تفصیل ځاي ته ځي، نو د موزیم موجوده کتابونه مفصلاً ښيي. په دغو کښې ځینو داسي کتب او هسي معلومات موجود دی چه دمخه موږ ته ښکاره وه، نو ئې دلته د تکرار ضرورت نشته، فقط هغه معلومات ځیني را اخلو، چه موږ ته نوی دي، او دمخه د پښتو ټولني په نشراتو کښې ندي راغلي.

دلته دا خبره هم د کړو وړ ده، چه د دغه فهرست لیکوال اصلي قلمي نسخې په غور کتلي، او ځیني یاداشتونه چه راوړتي او نورو پوهانو پر لیکلي دی، له هغو څخه ئې را اخیستی دي، نو ځکه چه دغه یادوني ګټوری دي، زه ئې هم دلته را نقل کوم اوس به نو له دغه کتابه غوره معلومات دلته را خلاصه کړم.

## (۱) د درویزه په خصوص کښې زیات معلومات

د کابل په تیرو کالنیو او د پښتو ټولني په نشراتو کښې د دې سړی ژوندانه حوادث او په پښتو کښې یې د ادب موقعیت ښه څرګند شوی دي، دلته د ده په خصوص کښې یو څه معلومات لاس ته راځي، چه دمخه ندی نشر شوي، نو د پخوانو لیکنو د تکمیل لپاره هغه راوړو:

د درویزه په تالیفاتو کښې تذکرة الابرار او ارشاد الطالبین او مخزن موږ ته معلوم و، مګر دی په پارسی ژبه یو بل تألیف هم لري، چه د علی بن عثمان

الاوشی د عربی بدء الامالی شرح ده، او دا کتاب په لاهور کښې په ۱۸۹۱ع او په دهلی کښې په ۱۹۰۰ع خپور شوی هم دي.

د مخزن له قلمی نسخو څخه یوه داسی نسخه هم شته، چه د اخوند درویزه د زوی عبدالکریم (کریمداد) په لاس کښلې شوې، او په جمعه ۲۱ د محرم ۱۰۲٤ھ ئې تمامه کړیده، او په پاې کښې داسي لیک لری: "باید دانست که جامع این تالیف فقیر کثیر التقصیر عبدالکریم بن مخدوم درویزه است قدس الله سره العزیز قدو قع الفراغ من جمعیت هذالتألیف و استکتا به یوم الجمعه فی تاریخ احدی و عشرون من المحرم الحرام فی سنه الف و اربعة و عشرون تمت بالخیر."

له دې څخه د کریمداد د ژوندانه وخت د ۱۰۲٤ھ حدود معلومیږي.

## (۲) د اخوند قاسم فواید شریعت

د دې تألیف په خصوص کښې هم موږ معلومات درلوده، او کتاب هم چاپ شوی دي، مګر دلته د فهرست مؤلف د راورټی په حواله لیکي، چه فواید شریعت په ۱۱۲۵ھ، ۱۷۱۳ع کښل شوی دي او مؤلف ئې په هشتنګر او پیښور کښې و، او خپل نوم داسی لیکي: ابو القاسم بن عبدالله (ص ۷).

## (۳) عبدالرشید

د دې سړی شرح حال په پښتانه شعرا ج ۱، ص ۳۱۸ کښې راغلي دی، او هلته مي تخميناً د ده د ژوندانه وخت د ۱۱۲۹ھ حدود ټاکلی دي. مګر د دې فهرست مؤلف لیکي، چه ده خپل کتاب رشید البیان په ۱۱٦۹ھ، ۱۷۵٦ع کښلی دي (ص ۷).

## (٤) د افضل خان تاريخ مرصع

د تاريخ مرصع پوره نسخه مونږ نده ليدلې، فقط د ګلشن روه په حواله ئې دمخه په پښتانه شعرا (ج ۱، ص ۲۳۰) کښې ذکر راغلی دي. بيا ښاغلی رشتين د ۱۳۲۰ش په کالنی کښې (ص ۲٦۵) د دې شرح راوړې ده.

له دغه فهرست څخه د افضل خان په شرح حال کښې دغه لاندی ليکي اضافه کيږي:

"افضل خان د اشرف خان زوی و، چه خوشحال خان په ۱۰۹۵ه، ۱٦۸۳ع په بيجاپور کښې بندی شو، نو افضل خان د (۱۷) کالو و،، دی د خپل پلار تر مرګ وروسته په ۱۱۰۵ه، ۱٦۹۳ع د خټکو مشر شو، د ده کتاب تاريخ مرصع له مخزن افغانی څخه يوه برخه لری، چه دغه مخزن په ۱۰۲۰ه نعمت الله کښلی و. له دغه سره افضل خان د يوسفزو تاريخ ګډ کړی، او د خټکو د کورنۍ احوال ئې هم پوری ضميمه کړی دي، لمړی دی يوه مقدمه ليکي، بيا نو خپل کتاب پر (۳) بابه او (۷) دفتره ويشي، او يوه خاتمه هم لری."

ځکه چه له دغه فهرست څخه د کتاب مفصل احوال لاس ته راځی، نو به لاندي د ټولو نسخو شرح وليکم، د تاريخ مرصع درې نسخې په بريټش موزيم کښې شته:

(الف) لمړۍ نسخه تر (OR-2893) لمبر لاندی، ۷٤۰ مخه ده، چه تقطيع ئې (۸x۱۳) انچه دی، هر مخ ۱۳ ليکی لری، په ۱۸۸۵ه په پيښور کښې ليکلې شوې، او د هيوز په کلکسيون اړه لری، د کتاب شروع داسي کيږي:

"باسمک القدوس سبحان الله و بحمده، پاکي ده هغه خدای تعالی لره، چه زمان ئې د اختيار او د اقتدار په قدرت کامله سره د خلقت انسانی په جناب ګرودن اقتدار ئې د بادشاهانو عالی تبارو سپارلی دی..."

د کتاب ابواب او مضامين داسی ويشل شوی دي:

لمړی باب: له ١٦ تر ٢٥ مخه د مهتر يعقوب عليه السلام احوال.

دوهم باب: له ٢٥ تر ٤٢ مخه طالوط او سليمان عليه السلام.

دريم باب: له ٤٢ تر ٦٥ مخه د اسلام له ابتدا د حضرت عمر (رض) د خلافت تر پايه.

(دا درې بابه په تاريخ انبياء اړه لری، او لکه پخوانو مؤرخينو چه ليکل هغسي ليکل شوی دي، البته د اوسني تاريخ لار او رويه بيله ده) وروسته د کتاب دفاتر شروع کيږي:

لمړی دفتر: له ٦٥ تر ١٨٨ مخه د لودی سلطان بهلول، او سلطان سکندر او سلطان ابراهيم تاريخ.

دوهم دفتر: له ١١٩ تر ٢٣٧ مخه د شير شاه سوری او اسلامشاه، او عادلشاه عدلی تاريخ. (دغه برخي په تاريخ مرصع کښې د نعمت الله له مخزن افغانی څخه اخيستي شوی دي).

دريم دفتر: له ٢٣٧ تر ٢٧١ مخه. د پښتنو مشرانو احوال چه له نعمت الله څخه ئې احوال را اخيستل شوی دي، دغه ټوک د خان جهان لودی، دلير خان، بهادر خان، پردل خان، دريا خان احوال او سوانح لری.

څلورم دفتر: د کابل وقايع (چه په دغه نسخه او نورو کښې دا برخه نشته، اما د کتاب په مقدمه کښې يې ذکر راغلی دي).

پنځم دفتر: له ۲۷۱ تر ۲۹۹ مخه د غوریا خیلو او خښي قبیلو راتګ له قندهاره و کابل ته. د دې برخې تاریخي وقایع له تذکرة الابرار او جهانګیر نامه، او نورو پارسي کتابو څخه اخیستل شوي دي. دغه برخه له ګلشن روه او کلید افغاني څخه ټي سي پلوډن T.C.Plowden په انګلیسي ترجمه کړې او په ۱۸۷۵ع ئې په لاهور کښې طبع کړیده (د یوسفزو عمومي راپورت چه بیلیو په ۱۸٦٤ع له لاهوره نشر کړی دي وګورئ).

شپږم دفتر: له ۳۰۰ تر ٦۱۰ مخه: د خټکو انساب او تاریخ، د خوشحال خان د ژوندانه مهم وقایع، د ګوالیار د محاصرې حوادث، د اورنګ زیب سره د خوشحال خان جګړې، چه په دغه برخه کښې ډیري نیتې په پارسي او پښتو بیتو ښوولي شوي دي.

اوم دفتر: له ٦۱۰ تر ۷۱۷ مخه: د مشهورو پښتنو روحانیو خلقو سوانح، چه په لمړۍ برخه کښې د نعمت الله له مخزن ترجمه شوي احوالونه دي، او د ۲۸ سړبنیو، ۱۸ بیټنیو، ۱۷ غرغښتیو مشاهیرو سوانح لري.

دوهمه برخه ئې له ٦٥۱ تر ۷۱۷ مخه د نورو مشاهیرو سوانح دي، چه مخصوصاً د خټکو روحانیون بیان شوي دي، لکه: آدم بنوری، ابو الفتح، نسیک خټک کرلاڼی، پیر بابک، شیخ بهادر (او د ده زوی) شیخ رحمکار خټک کرلاڼی، اخوند محمد چالاک، میان جمیل، میان اللهداد، رادل فقیر.

خاتمه: له ۷۱۷ تر ۷٤۰ مخه: د پښتنو انساب په درې فصله کښې: (۱) سړبنی (۲) بیټنی (۳) غرغښتي (چه دغه هم له مخزن افغاني څخه پښتو شوي دي) د مخزن د دغې نسخې په پای کښې هسي لیکلي دي:

"ډير ډير شكر او حمد هغه يو خداى لره، چه ... دا كتاب مستطاب يعنى تاريخ مرصع تصنيف د افضل خان... په قلم د مولوى محمد حسن په شهر د پېښاور كښې په اته ويشتم تاريخ د مياشت د اپريل سنه ۱۸۸۵... ښكلى شه."[۱]

(ب) دوهمه نسخه (ADD-2632) ټوله (۷٤۰) مخه ده، تقطيع ئې (٦,۷۵x۱۰,۷۵) انچه ده، هر مخ ئې ۱۷ سطره لرى، هره ليكه يې ۳,۷۵ انچه اوږده ده، دا نسخه د اتلسمى عيسوى پيړۍ په آخره برخه كښې په ښه خط كښلې شوې، او د وليم ارسكن له كلكسيونه ده.

(ج) دريمه نسخه (OA-4487) مخونه ئې ۷٦۵ دى، په دې تقطيع: ۷,۷۵x۱۳ هر مخ ئې ۱۷ ليكى لرى، چه اوږوالى ئې ٤,۲۵ انچه دى.

دا نسخه د ميجر راورټى په كلكسيون اړه درلوده، د هيوز له نسخې سره سمه ده، ليكونكى ئې نور محمد قندهارى دى، چه په ملتان كښې په ۱۲۷۲هـ،۱۸۵٦ع كښل شوې ده او پر دواړو وقايعو باندى د محمد سعيد پيښاورى ۱۲۷۲هـ مهرونه لري.[۲]

## (۵) شاهنامۀ احمد شاهى

د دې كتاب ذكر د فهرست خاوند تر ۱۲ نمبر لاندى په ۱۰ مخ كښې راوړى، لكه چه ښكارى دا كتاب د پښتو ډير مهم ادبى اثر دئ، او دمخه هم د پښتو ټولنى په ليكنو كښې ذكر شوى ندى، نو ځكه له دغه فهرسته څخه د دې كتاب معلومات ټول موږ ته نوى دي، او زموږ په ادبى تاريخ كښې يو مهم اثر زياتيږى.

۱. د فهرست له ص ۸۰-۹۰ پورى.

۲. د فهرست ۱۰ مخ.

دا کتاب تر نمبر (OR-4221) لاندی په بریټش موزیم کښې خوندی دي، صفحات يې ۱۲٤ دي، تقطیع ئې ( ۵،۲۵x۹) انچه ده، په هر مخ کښې ۱۵ لیکی دی، چه هره لیکه ۳ انچه اوږده ده، په ۱۸ عیسوی پیړۍ اړه لري.

دا کتاب د جیمس ډارمسټېټر له کلکسیونه دي، او د اعلیحضرت احمد شاه بابا سوانح او جنګی کار نامې ذکر کوي، له هغه وخته شروع کوي چه احمد شاه بابا له نادر افشار سره ؤ، بیا د پنجاب د مراټیانو تر جګړو پوری ټول حوادث راوړي. د کتاب ناظم (حافظ) نومیږی، او خپل کتاب داسی شروع کوي:

اول ثنا ده د سجان چه پادشاه دی د جهان
که هزار مي شي زبان په څو قسم که بیان

***

نه به شی له ما ادا که ګویا شي واړه دا
چه خلقت که له عدم څه زیبا صورت له...

په لمړی مخ کښې د خدای تعالی ثنا، او د حضرت محمد (ص) او د ده د یارانو نعت وایي، دا مقدمه تر ۷ مخه رسیږي، بیا تر ۱۲ مخه د نادر شاه افشار بیان کوی، نور مباحث ئې دا دي:

۱. د چمکنو راتګ لاهور ته او د نادر شاه مرګ. ١٤ مخ.
۲. د احمد شاه درانی پر تخت کښینستل او د افغانستان پاچا کیدل (۱۱٦۰هـ) ۱۸ مخ.
۳. د نواب ناصر خان سره جنګ او د هغه ماتول، ۲۲ مخ.
٤. د احمد شاه تګ لاهور ته، ۲۵ مخ.

٥. د نواب شاهنواز تیاری د ده مقابلې ته، ۲۹ مخ.
٦. د شاه لمار جنګ لاهور ته نژدې، ۳۱ مخ.
۷. د مغلو د لښکرو را رسیدل، د نواب قمرالدین خان سره له جهان آباده، ۳٦ مخ.
۸. ټینګول د عهد له احمد شاه سره د جنګی مشرانو له خوا، ۳۸ مخ.
۹. پر سرهند حمله، ٤١ مخ.
۱۰. د سرهند جګړه ۱۱٦۱هـ، ۱۷۸٤ع، ٤۳ مخ.
۱۱. لاهور ته د نواب معین الملک راتګ د حاکم په ډول، د ده د پلار تر وفات وروسته، چه د سرهند په جنګ کښی ومړ، ٤۹ مخ.
۱۲. د نواب معین الملک په واسطه د دهلی له پاچا سره اتحاد، ٥٤ مخ.
۱۳. احمد شاه بیرته تګ کابل ته، ٥۹ مخ.
۱٤. د نواب معین الملک سره جګړه، ٦۲ مخ.
۱٥. پر دهلی حلمه ۱۱۷۰هـ، ۱۷٥٦ع، ۷٥ مخ.
۱٦. پر جینګر حمله، ۷۷ مخ.
۱۷. له انوپشهر څخه شهدرې ته تګ، ۸٦ مخ.
۱۸. تر جمنا اوښتل، ۹۰ مخ.
۱۹. د نواب نجیب الدوله تیاری د مراټیانو جګړې ته په پنجاب کښې، ۹۲ مخ.
۲۰. وژل د نجیب الدوله د باهو آدم له خوا، ۹۲ مخ.
۲۱. د غلو دانو درول پر مراټیانو باندی، ۹۷ مخ.
۲۲. د احمد شاه غلبه پر مراټیانو په پانی پت کښې، ۱۰۰ مخ.
۲۳. خاتمه، ۱۲۱ مخ.

دا اشعار پۀ ۱۱۷۲هـ، ۱۷٦۰ع ليکل شوی دي، او دغه عين هغه وخت دی چه د مراټيانو سره جګړې جاری او تودې وې، ځکه چه د ۱۷٦۱ع کال په جنوری د پانی پت په جګړه کښې د مراټيانو حوادث تمام شوی دي.

داسي ښکاري چه دغه نسخه د مؤلف په قلم ليکلی شوې ده، ځکه پر حاشيو او بيتو سربيره ډير تصحيحی خطونه لري د کتاب د پای بيتونه دا دی:

شاه نامه مي شوه منظوم　　په کاغذ باندي مرقوم
ايما حافظ طوطی زبانه　　ژبه بند کړه له بيانه
په دا ختم کړه ګفتار[1]　　په تنظيم مکړه اشعار

## (٦) تواريخ حافظ رحمت خانی

د يوسفزو پښتنو يو تاريخ دی، چه تر (OR-4488) لمبر لاندی په بريټش موزيم کښې شته. ۱۲۵ مخه (۷,۷۵x۱۲) انچه دی، هر مخ يې ۱۵ ليکي لري، چه د ليکو طول ئې ٤,٥ انچه دي. دا کتاب د راورټی په کلکسيون اړه لري او مؤلف ئې معظم شاه نوميږی. دی خپل کتاب په يوه پارسی مقدمه شروع کوي او وايي: چه زما پلار پير محمد فاضل نوميږی چه د پيښور د پير سهباک دکلی مشر و، او د حافظ رحمت خان (متوفی ۱۱۸۸هـ) له نفريو څخه شميرل کيدئ، د ده بادار حافظ رحمت خان يوه قلمي نسخه (تواريخ افغان) د شاه جهان پور د خان بهادر خان داؤدزی غورياخيل په کتب خانه کښې وليدله[2] چه د خښی او غورياخيلو او د يوسفزو وقايع پکښې

۱. د فهرست ۱۰-۱۱ مخ.
۲. تواريخ افغان د حسين خان افغان له خوا په ۱۰۳۲هـ، ۱٦۲۲ع ليکل شوی، او لکه ايتی چه د انډيا آفس د فارسی کتابو په فهرست کښې ليکي (ص۲۳۳) دا کتاب هلته په ۵۸۱ نمره ضبط دی، ريو ئې هم پخپل فهرست (ص۲۳۰) کښې ذکر کوی.

ليکلي وه او په پښتو او پارسی کښ وه و، دا کتاب د اخوند درویزه د نثر په ډول کښلی شوي و، نو پیر معظم شاه د حافظ رحمعت خان په هدایت، دا کتاب په آسان ډول وکیښ. دا کتاب اوه مقام لري، په ۱۱۸۱هـ، ۱۷٦۷ع تمام شوی دي.

۱ مقام. (٤ مخ) د خښی او غوریاخیل راتګ کابل ته او د میرزا الغ بیګ سره مخالفت.

۲ مقام. (۲۲ مخ) د یوسفزو ولیږدل پیښور ته، د دلازاکو سره جګړه، د دوآب او باجوړ فتح کول، او د هشتنګر د ښار نیول.

۳ مقام. (٤۹ مخ) د سوات راتلل د ملک احمد تر مشرتوب لاندي د بابر راتګ د یوسفزو د شخړي لپاره.

٤ مقام. (۵۸ مخ) د ګګیانیو مشت کیدل په دواب کښې، پیښور ته د بابر شاه راتګ او د لاازاکو ماتول.

۵ مقام. (۹۷ مخ) د ګګیانیو جګړې د دلازاکو سره.

٦ مقام. (۱۱۳ مخ) د مفتوحو مځکو ویشنه په مشهورو قبیلو کښې د شیخ مالی په هدایت، د شیخ مالی او ملک احمد مرګ، د خان کجو رسیدل و مشرتوب ته، او د غوریاخیلو سره عداوت کول.

۷ مقام. (۱۳٤ مخ) د یوسفزو او غوریاخیلو جګړې او د خان کجو تصرف د دوی پر مځکو.

دا مهم کتاب معظم شاه د محمد عظیم الله خان ابن دلاور الملک عزت الدوله د وندی خان د حکمرانۍ په وخت کښې کښلی، او دغه نسخه چه ذکر

شوه، په پای کښې د لیکونکی نوم داسي راغلی دي: "کاتب الحروف میرزا محمد اسماعیل قندهاری بتاریخ ۲٦ ماه جولائی سنه ١٨٦٤ع."[١]

له دې پلټني څخه موږ ته دوه پښتو تاریخی کتب په لاس راځي، یوه هغه د حسین خان تواریخ افغان چه بل ځای ئې موږ درک ندی موندلي، بل پخپله دغه تواریخ رحمت خانی چه معظم شاه کښلي او ډېر مهم پښتو اثر دی.

## (۷) ریاض المحبت

یو پښتو ګرامر او فرهنګ دی، چه د نواب محبت خان له خوا په پارسی لیکل شوی او په بریټش موزیم کښې په (OR-4490) نمبر ضبط دی. ټول کتاب ۷۲٤ مخه (٨x١٢،٥) انچه دي. د راورټی په مجموعه اړه لري او داسي شروع کیږي:

"ستایش بیکران و نیایش فراوان نخل بندی را باید، که حدایق جهانرا به گلهای بوقلمون و نهال های گوناگون آراستگی و پیراستگی بخشید.. الخ..."

نواب محبت خان د حافظ رحمت خان مشر زوی و، چه په ١٢٢١هـ، ١٨٠٦ع ئې دا کتاب د سر چارلس بارلو په خواهښت په لکهنو کښې وکیښ، دغه وخت دی د برطانیه د حکومت په لاس کښې بندی و.

دی درې د شعر دیوانونه هم لري چه یو هندوستانی، بل پارسی، او بل پښتو دی، یو بل هندوستانی مثنوی لري چه "اسرار محبت" نومیږي، چه د سسی او پانو قصه ئې په کښې منظومه کړې ده.[٢] د محبت خان بل کشر ورور

---

١. د فهرست ١١ مخ.

٢. د سپرینګر فهرست ص ٢٥١ - ٦٢٠. د ګارسان دی ټاسی ادب ج ٢، ص ٣٤٩. د ایتهی فهرست نمبر ٢٤٥٢.

نواب اللهيار خان خپل کتاب عجايب اللغات کښې ليکي، چه محبت خان په ۱۲۲۵هـ، ۱۸۰۸ع وفات شوي دی.

رياض المحبت پر دوه بابه ويشل کيږی، لمړی باب له ٦ تر ۵۹۵ مخه چه د پښتو افعالو تصريفات دی، د الفباء په ترتيب. دوهمه برخه له ۵۹۵ څخه تر ۷۲٤ مخه پښتو لغات دي، چه په پارسی ئې معانی ورته کښلی دي.

د کتاب په پای کښې د اتمام تاريخ "نو نسخهٔ محبت = ۱۲۲۱هـ" ښولي دی:

اين تحفه نسخهٔ نو تصنيف شد چو از من
آمدند از هر سو صد آفرين و رحمت
اتمام سال انرا هرگه زغيب جستم[۱]
تاريخ گفت هاتف: "نو نسخهٔ محبت"

## (۸) عجائب اللغات

دا يوه هندوستانی او پښتو ډکشنری ده، چه پارسی معانی هم لري، مؤلف ئې د حافظ رحمت خان زوی اللهيار خان دی، دا کتاب په (OR-399) نمبر ضبط، او ۲۷٤ مخه لري، تقطيع ئې (٦,٥x۱۰,۷۵) انچه ده، هر مخ ئې ۱۷ ليکي لري. هر ليکه ۳,۷۵ انچه اوږده ده، په نستعليق د ۱۲۳٤هـ، ۱۸۱۹ع کال په رجب کښې کښل شوی دي. د هملتون په کلکيسون اړه لري، ابتداء ئې دا ده:

۱. د فهرست ۱۲ مخ.

"الحمد اللّٰه...بعد ستايس جناب کبریای جل و علی و درود بر خواجۀ انبیا علیه من الصولواة افضلها، و مناقب خلفاء راشدین، و جمیع اصحابه و تابعین رضوال اللّٰه تعالی علیهم اجمعین، میگوید بندۀ گنه گار... الخ."

کتاب یوه مقدمه له ٤ مخه څخه لري، چه د پښتو ګرامر ځینی قواعد دي، پخپله د کتاب لغات پر ۲۸ بابه ویشل شوی دي، چه له ۱۱ مخه شروع کیږي، لمړی هندوستانی لغات بیا پښتو، بیا پارسی او عربی پکښې لیکلې، او پر هر لغت ئې لوړ په سره رنګ د دغو ژبو لغات په (ع، ف، پ، ه) ښولي دي.

د کتاب په پای کښې د تألیف نیټې ۱۲۲۸ه، ۱۸۱۳ع په هندوستانی او پارسی د محمد ابراهیم خان فرحت او پښتو د مؤلف له خوا، او دوې نوری په پارسی او عربی د مولوی ګل محمد له خوا په نظمو کښې ویلی شوی دي. د کتاب لیکونکی غلام حسین دی.

د دې کتاب بله قلمی نسخه هم په (OR-4491) نمبر شته، چه صفحات ئې ۲۲۳ په (۷,٥x۱۲) تقطیع دي او لس لیکی هر مخ لري چه ٥,٧٥ انچه اوږدې دي، په نستعلیق د (۱۲۷۱ه، ۱۸٥٤ کال د صفری په میاشت د شرف الدین ملتانی په خط لیکلې، او د راورټی له کلکسیونه ده.[1]

## (۹) یوه پښتو مجموعه

نمبر (ADD-26582) ټوله ۱٤٦ مخه (۸x۱۳,٥) انچه ده، پر اروپائی کاغذ له ۱۰۸۳ تر ۱۸۰٥ع پوری کښلی شوې، او د ولیم ارسکن په کلکسیون اړه لري.

۱. د فهرست ۱۲-۱۳ مخ.

دا مجموعه ځيني متفرق مضامين دي د پښتو په خصوص کښې په دې لاندي ډول:

۱. له ۱-۱۰ مخه د پښتو ګرامر قواعد دي، د رشيدالبيان او عبدالرحمن مثالونه لري، تر ٦۳ عنوانو لاندی.

۲. له ۱۱-۱۹ مخه د پښتو د ادب نمونې چه په رومن ليکلي دي، او د رحمان، او هندی قصو او مخزن اسلام څخه اقتباس دی.

۳. له ۲۰-۲۲ مخه د مخزن اسلام او رحمان څخه يوه خلاصه.

٤. له ۲۳-۲٦ مخه پښتو لغات له انګليسی ترجمې سره.

٥. پښتو الفباه، او د ويل له مصدره د پښتو افعالو اشتقاق.[۱]

## (۱۰) د ارزانی ديوان

ارزانی دمخهٔ موږ د خيرالبنان د سبک او پير روښان په بيانو کښی پيژاند، او دا هم راته معلومه وه، چه دی يو شاعر دی مګر د مکمل ديوان وجود ئې نه و راته ښکاره.

دا ديوان په (OR-4492) په بريټش موزيم کښی ضبط، او ټول ۲٥۰ مخه په (۸,٥x۱۳,٥) انچه تقطيع دی، چه هر مخ ۱٥ ليکی په ٤,٥ انچه آوږدوالي لري، په ۱۹ عيسوی پيریَ کښې کښل شوی، او د راوړتی په کتابو اړه لري. لمړي بيتونه ئې دا دي:

له الفه کوز تر يا    فقير راوړه بې ريا
اول دفتر به وکښم    په نامه د کبريا

---

۱. د فهرست ۱۳ مخ.

د بل چا صفت په سو کړم لکه نقش د بوريا
حق له شش جهته پاک دی بې پايا نه لوی دريا

دا کتاب ټوله ٤٩ قصيدې لري، چه د الفباء پر ترتيب برابري دي، ميجر راورټي پر دغه کتاب يو ياداشت داسي کښلی دي: "دا ملا د بايزيد انصاری ادبی ملګری و، اخوند درويزه د ده له بابته هسي وايي: ارزانی شاعر له هغو درو ورونړو څخه دی، چه په قوم پښتانه خويشکی وه، او ارزانی، عمر، علی نوميدل، له هنده راغلل، او د بايزيد انصاری ملګری شول، ارزانی خورا قوی شاعر و، بديه ګوي و، ټول د بايزيد عقايد ئې په پښتو نظم کړل، او د بايزيد په کتاب کښې ئې هم اشعار ګډ دی." [١]

## (١١) د هجری ديوان

اشرف خان هجری د خوشحال خان زوی دمخه هم موږ ته د پښتانه شعرا په حيث معلوم و، خو د ديوان درک مو نه درلود. دا پښتو ګرانبها اثر تر (OR-2800) نمبر لاندي په بريټش موزيم کښې شته، ١١٩ مخه لری، تقطيع ئې (٧,٥x١١) انچه ده، هر مخ ١٥ ليکی دي، چه د ليکو اوږدوالی ٥ انچه دي. دا کتاب د پادری هيوز په مجموعه اړه لري. ابتداء ئې په دې بيتو شوې ده:

د بوسې وعده هميش يار په فردا کا ځما زړه کله باور په دا وينا کا
چه هوس کا، نن د ګانده په کارونه عاقلان په هغه کس پوری خندا کا
يار آګه نه دي د دهر له نيرنګه لا رښتيا په زړه کښې نلري دعا کا

١. د فهرست ١٤ مخ.

اشرف خان د خوشحال خان مشر زوی او په ۱۰٤٤ھ، ۱٦۳٤ع زوکړی و. په ۱٦۸۱ع د خټکو خان شو، مګر د خپل ورور بهرام خان په دروه د اورنګزیب په لاس کښیووت او د بیجاپور په کلا کښې بندي شو، او هلته په ۱۱۰۵ھ، ۱٦۹۳ع کال په ٦۰ کلو عمر ومړ. اکثر اشعار ئې په خپل محبس کښې کښلي دي.

هیوز پر دغه کتاب باندی یاداشت کښلی دي: "چه دغه نسخه د ده په امر د افضل خان جمال ګړی له اصلی نسخې څخه را نقل شوې، او دغه سړی د اشرف خان له لمسیو څخه دي، چه د پیښور په علاقو کښې اوسي."

غزلیات ئې د الفباء پر ردیف برابر دی. وروسته یو څو مخمسه لری، بیا نو رباعیات، او د خوشحال خان د مرګ نیټې په بیتو کښې راوړی، چه له دغو څخه څلور پارسی او نور پښتو دی. د کتاب پای داسي ختم کیږي:
"تمت تمام شه، په تاریخ د شپږم د ماه جنوری سنه ۱۸۷۳ عیسوی، په دستخط د فقیر غلام جیلانی پښاوری عفی عنه."[۱]

## (۱۲) عبدالقادر خان

د عبدالقادر خان دیوان له دوو قلمی نسخو څخه په ۱۳۱۷ش ما له قندهاره خپور کړ. په دغه فهرست کښې چه دغه دیوان ضبط شوی دي، په ۱۸۸٤ع د هیوز په امر د افضل خان خټک له نسخې څخه په پیښور کښې نقل شوی دي ځکه چه د عبدالقادر خان دیوان چاپ شوی دي، نو دلته فقط هغه سوانح را اخلم، چه دمخه نه وه راته معلوم، او د فهرست مؤلف لیکي دي:

---

۱. د فهرست ۱۷ مخ.

"عبدالقادر خان د خوشحال خان زوی، د اشرف خان کشر ورور په ۱۰۶۳ه، ۱٦۵۳ع زیږیدلی دی، چه اشرف خان د مغولو په لاس په ۱٦۸۳ بندی شو، نو دی د خټکو خان و، مګر د ده وراره افضل خان له قبایلو سره پخپله خانی کښې مفاهمه وکړه او عبدالقادر خان او نور د خټکو د کورنۍ خلق د ده په اشاره تر دنیا تیر شول!

عبدالقادر خان د سعدی ګلستان او بوستان په پښتو ترجمه کړي دی، راوړتې وایی چه د ده تألیفات تر ٦۰ پوري رسیږي!"[۱]

## (۱۳) د متفرقو شاعرانو ویناوی

د عبدالقادر خان دیوان یوه بله نسخه هم په (OR-4232) او (٦,۵x۱۰,۵) انچه تقطیع شته، چه د ډارمسټټر له کلکسیونه ده، او په ۱۸ پیړۍ کښې لیکلی شوې ده. دا نسخه ۷۷ مخه ده چه په ۱۰ مخو کښې د ځینو نوم ورکیو شاعرانو د کلام انتخابات دی او د دغو شاعرانو اشعار پکښې ضبط دي، چه د پښتو د ادب په تاریخ کښې نوی نمونې بللي کیږي:

۱ - ٦۲ مخ: د فیض محمد نومی شاعر یوه غزل

۲ - ٦۲ مخ: د اشرف نومی شاعر یوه غزل

۳ - ٦۲ مخ: د فقیر افضل نومی شاعر یوه غزل

٤ - ٦۲ مخ: د صدر خوشحال نومی شاعر یو مخمس

۵ - ٦۳ مخ: د خوشحال خان نومی شاعر یو مخمس

٦ - ٦۵ مخ: د صدر خوشحال نومی شاعر یو مخمس

۷ - ٦۸ مخ: د نواب علی محمد خان نومی شاعر یوه غزل

---

۱. د غهرست ۱۷ مخ.

۸- ٦٩ مخ: د مسکین نومی شاعر یوه غزل

۹- ۷۰ مخ: د نواب علی محمد خان پر مرګ مرثیه د محمد کاظم خان ختک له خوا ۱۱٦۲ھ، ۱۷٤۹ع.

۱۰- ۷۲ مخ: د سید عبدالصمد پیرزاده یو مخمس.

۱۱- ۷۵ مخ: د حافظ رحمت خان یو مخمس.[1]

له دغو شاعرانو څخه ډېر داسی دی، چه مونږ ته ئې دمخه نوم او آثار نه وه ښکاره، فقط د دغه اثر له برکته د دوی نومونه او آثار راته څرګند شول.

## (۱٤) د حمید د وفات تاریخ

عبدالحمید ماشوخیل ډیر مشهور شاعر دی، او په پښتانه شعراء لمړی جلد کښې ئې ذکر هم راغلي دی. په دې فهرست کښې د ده د حیات په خصوص کښې فقط یو نوی شی، چه هغه د ده د وفات نېټه ده په ص۲۰ کښې د فهرست مؤلف د راورتی د یو کتاب انتخاب اشعار افغانی ص ۸۵ په حواله لیکي، چه حمید په ۱۱٤۵ھ، ھ۱۷۳۲ع وفات شوی دی.

## (۱۵) د نجیب دیوان

په دغه نامه تر اوسه موږ ته کوم پښتون شاعر نه و معلوم، او نه مو په پښتانه شعرا کښې ذکر کړی دي، مګر خوشبختانه د دې فهرست په مرسته اوس معلومه شوه، چه د خوشحال خان او رحمان بابا د دورې یو پښتون شاعر نجیب دی.

۱. د فهرست ۱۸ مخ.

د ده دیوان د راورټي په کتابو کښې و، او تر (OR-4495) لمبر لاندی د بریطانیا په موزیم کښې ضبط، او ۱۸۸ مخه دی، چه تقطیع ئې (۵,۲۵x۸) انچه او هر مخ ۱۳ لیکی دی چه د لیکو طول هم ۳,۵ انچه کیږي د کتاب ابتدا ده:

جفا کاره بې وفا ده دا دنیا
بې وفا هم بې بقا ده دا دنیا
په ساعت کښې مخ ځرګند کاندي بیا نه وی
ته به وائې چه بریښنا ده دا دنیا
ډیر عالم دی په ارمان ور ځني تللي
نه به شی نه د هیچا ده دا دنیا

د فهرست مؤلف لیکی: چه د نجیب له احواله هیڅ نه معلومیږي، فقط د راورټي له یوه یاد داشته دوني ځرګندیږي، چه دی یوسفزی پښتون و، کتاب غزلی لری، خو له ۱۷٤ تر ۱۸۸ پوري رباعیات دي، د کتاب په پای کښې هسی کښلي دي:

"تمت تمام شد، دیوان نجیب: بحسب ارشاد قبلۀ کونین مربی دارین... حضرت صاحبزاده محمدی جیو سلمه الله تعالی از دست فقیر پر تقصیر گل محمد پشاوری سلخ مال صفر سنه ۱۱۰۸ه."[۱] پخپله د نجیب د دیوان وجود، موږ ته نوی ادبی تحفه ده، چه معلومات ئې لاسته راغله اما د کتاب آخرنۍ لیکي هم ډیري غنیمت دي، ځکه دا ښکاره کوي، چه د محمدی په امر کښلي شوی دي.

۱. د فهرست ۲۰ مخ.

هغه وخت چه پښتانه شعراء لمړی ټوک لیکل کیدی په ۲۷۱ مخ کښې د محمدی ذکر راغلي دی، دا سړي ډیر باذوقه شاعر او د روحانی مقام خاوند و، د یونس یو قلمی دیوان چه د اعلیحضرت همایونی په کتابخانه کښې دی، او په ۱۱۷٦هـ لیکل شوی دي، د محمدی په خط ځیني حواشي لري. دغه د نجیب دیوان هم د دغه باذوقه صاحبزاده په امر په ۱۱۰۸هـ کښلی شوي دی، چه موږ ته د محمدی د حیات دوره را ښیي، د ده د حیات او شعر په خصوص کښې پښتانه شعراء (ج۱ـص ۲۷۱) ته رجوع وکړي.

## (١٦) حافظ عبدالکبیر

د ده کتاب معجزات نومیږي، د ډارمستېټر له کتابو څخه دی، چه په (OR-4237) نمبر موجود او ۱۳۱ مخه دی تقطیع ئې (٦x٨,٧٥) انچه ده، ۱۵ تر ۱۸ لیکي لري، هر لیکه ٤,٥ انچه ده، د کتاب ابتداء:

هغه علم چه د خدای دي تر عاجزو د خلقو رای دي
نه خبر پری جبرائیل دي نه خبر پری میکائیل دي
نه خبر پر سفره دي نه خبر پر بر ره دي

داسي ښکاري، چه عبدالکبیر دا کتاب د احمد شاه بابا په عصر کښې کښلي دي ۱۱٦٦هـ، ۱۷۵۳ع. دی دوه پارسی کتب هم لري چه یو در المجالس او بل دفع الفقر نومیږی او نور کوچنی کوچنی اشعار هم له ده څخه پاته دی.[۱]

د کتاب د پای بیتونه دا دي:

۱. د فهرست ۲۱ مخ.

چه و تا وته ئې وايم زه ئې وکښم و ئې نمايم
و عاقل ته اشارت دي کبير کړی نصيحت دي

د دې کتاب له ۱۱۷ مخه تر ۱۲۷ پوری لنډ اشعار دي، چه يو مناجات ئې په ۱۸۸۷ع په دهلی کښې د فوايد الشريعه پر حاشيه هم چاپ شوی دي ص ۱۰۸ - ۱۳۰ له ۱۲۸تر ۱۳۰ پوری د مطيع الله مناجات دی، چه هغه هم د رشيد البيان د ۳۰-٤۱ مخ په حاشيه په ۱۸۷٤ع په پيښور کښې چاپ شوی دي.

## (۱۷) د شيدا ديوان

د شيدا ديوان زما څخه هم شته، مګر دا نسخه ما پخپله په ۱۳۱۵ش له هغی نسخې څخه نقل کړه، چه زما استاد محترم مولوی ابو الوفاء افغانی په ۱۳٤۰ه له يوې بلي قلمي نسخې څخه نقل کړې وه، هغه قلمی نسخه د قندهار د کوتوال سردار عبدالمجيد خان په تصرف کښې وه او په ۱۳۲۵ه په پيښور کښې د عبدالمستعان اکبر پوری په خط کښلې شوې وه.

اما افسوس چه دا درې سره نسخې ډير نواقص او غلطۍ لري، او جداً مقابله او تصحيح غواړي.

په بريټش موزيم کښې د دې ديوان قلمی نخسې ډيری دی، لمړۍ نسخه چه د راورټی له کتابو څخه ده په (OR-4494) نمبر ضبط، او ۱٤۷ مخه لری، تقطيع يې (۵,۵x۱۲,۵) انچه ده، هر مخ ۱۱ ليکی لری، هره ليکه پنځه انچه اوږده ده.

دا نسخه يوه مقدمه، او بيا نو حمد، نعت، مناقب، او د شيخ نقشبند (رح) او شيخ احمد سرهندی (رح) او غلام معصوم (رح) مدح لري، وروسته نو له

۳۰ مخه اصلی غزلیات شروع کیږی، نسخه ئې لږ غلطۍ لري، راورټي له لاهوره موندلې ده، او دا هغه نسخه ده، چه پخپله شیدا میان محمدی ابن میان عبدالله سرهندی ته را لیږلې وه. او د دې کورنۍ سره شیدا روحانی ارادات درلود، د کتاب د لمړۍ برخی په پاي کښې تاریخ ۱۱۸۱هـ، ۱۷٦۸ع لیکلی دي، بله نسخه تر (ADD-21471) نمبر لاندی شته، چه ۱۵۸ مخه ده، تقطیع ئې (٦,٥x۱۰) انچه دي، هر مخ ۱۱ لیکی لری، هره لیکه څلور نیم انچه اوږده ده.

دا نسخه د لیون باورنګ له کتابو څخه وه، ډیري د دیوان برخې نه لري، د فیض علی په خط ده. د دریمې نسخې بیان به وروسته راشی. مستر راورټي هسي لیکي:

چه شیدا کاظم خان د محمد افضل خان خټک زوی، او په ۱۱٤۰هـ، ۱۷۲۸ع زوکړی و، د پلار تر مرګ وروسته د ده مشر ورور اسدالله خان د قوم مشر شو، او کاظم خان د ورور د بدو روابطو له لامله کور پریښو، او ډیر کلونه په کشمیر کښې و، او هلته ئې ډیر علوم تحصیل کړل، بیا نو خورا ډیر عمر په سرهند کښې اوسیدئ، او په رامپور کښې هم میشت و، او د خپل عمر ډیره برخه ئې هلته تیره کړه.[1]

## (۱۸) د کامګار خان دیوان

کامګار خان دمخه فقط دغونی موږ پیژاند، چه یو پښتون شاعر دی، د پښتانه شعرا په لمړی جلد کښې مو د پادری هیوز د کلید افغانی په حواله د ده

۱. دا شرحه د فهرست مؤلف له انتخاب شعر پښتو (ص ۳۰٦) څخه اخیستې ده، چه د راورټي اثر دی.

ذکر کړی دی، مګر له دې فهرسته د دې شاعر به خصوص کښې ښه معلومات لاس ته راځي.

په بریټش موزیم کښې تر (OR-2801) نمبر لاندی، د شیدا د دیوان دریمه نسخه شته، چه ۲۰۰ مخه په (۷x۱۰,۷۵) انچه تقطیع ده، د مخو د لیکو شمیر ئې ۱۵ دي، او د هري لیکي طول ۵ انچه دي، دا نسخه مسټر هیوز ته په ۱۸۷۲ع د غلام جیلانی پیښوری په خط له یوې اصلی نسخې څخه لیکلې شوې ده.

دا نسخه د کامګار خان دیوان هم له ځانه سره یو ځای لري، چه ابتداء ئې دا ده:

په ثنا به د هغه کړم ابتداء    چه ئې نشته ابتدا او انتها
د مولا ثنا صفت ور ځنی اوري    و هر څیز ته چه نظر وکا دانا
له یوه څاڅکي زیبا صورت پیدا کا    پخپل حمد او په ثنا ئې کا ګویا
له اوریځي قطره واچوي دریاب ته    ترې پیدا کا قیمتی لولو لالا

مسټر هیوز دغه لاندي یاداشت د ۱۸۸٤ع د نومبر په ۲۱ تاریخ پر دې کتاب لیکلي دی:

"خانزاده کامګار خان د خټکو د مشهور مشر یو زوی او د پښتو ښه شاعر دی، چه په ۱٦٥۳ع زوکړی دي، دا نسخه له هغه دیوانه کښل شوې ده، چه د پیښور په جمالګری کښې د افضل خان خټک په تصرف کښې وه." د دغه شاعر وجود د هیوز تر تدقیق دمخه چا ته نه و معلوم، خو ده ئې نسخه له افضل خان څخه وموندله. دا نسخه په ۵ د اګست سنه ۱۸۷۲ع د غلام جیلانی پیښوری په خط لیکلی شوې ده.[۱]

---

۱. د فهرست ۲۳ مخ.

## (۱۹) د قاسم علی خان افریدی دیوان

د قاسم علی خان د دیوان یوه مهمه نسخه ما دمخه هم لیدلې وه، او هغه وخت چه د پښتانه شعراء لمړی توک لیکل کیدئ، هغه نسخه زما څخه وه. دا نسخه مرحوم موسی خان د شرکت پښتون رئیس موندلې وه په بریټش موزیم کښې هم دوې نسخې شته، لمړۍ په (OR-394) نمبر ۱٤٦ مخه ده، پای ئې داسی دي: "دیوان افریدی...من تصنیف قاسم علی خان افریدی بروز پنجشنبه بیستم شهر ربیع الاول هجری سنه ۱۲۰۹ جلوس شاه عالم، ړوند پادشاه سنه ۳٦."

دا نسخه د هملتون په کلکسیون اړه لری، په ابتداء کښې شجرهٔ قادریه په پښتو منظومه شوې ده له ٦ مخه ئې غزلیات شروع کیږي.

قاسم علی خان افریدی نقشبندی په فرخ آباد کښې میشته و، سید کلام الدین د ده ملازم او ملګری د دوهمي نسخې لیکوال هسی وایي، چه قاسم علی خان په پارسی، هندوستانی، او لږ انګلیسی او په کشمیری او تورکی پوهیدئ، پخپچله دی په ص ۱۳۳ کښې د لمړۍ نسخې لیکي، چه زما اشعار د حافظ غلام محمد په مرسته په ۱۲۰٦ھ سره را ټول شول.

داسی معلومیږي چه دغه لمړۍ نسخه د پخپله قاسم علی خان په خط لیکلی شوې وي، ځکه ډېر ځایونه اصلاحات لری، او ځیني موارد ئې په بل خط سم شوی دي، او داسی پر لیکل شوي دي: (اول مسودهٔ کتاب دیوان افریدی).

اما دوهمه نسخه چه په (OR-395) نمبر په ۱٤۹ مخه کښې صبط ده، د هملتون په کتابو اره لري، په پاي کښې داسي لیکلي دی: "تمت تمام شد دیوان افریدی، بتاریخ سلخ شعبان المعظم سنه ۱۲۳۱ هجری بخط خام احقر

العباد سید کلام الدین قادری پیر عاشق که لقب از قاسم علی خان افریدی یافت و تصنیف دیوان مسمی دیوان افراید نیز بخان موصوف بود و مهارت در چند زبان میداشت، و بلکه چند دیوان بزبان فارفسی و هندی و چند ملفوظات انگریزی و کشمیری و نیز ترکی تصنیف می نمود، و علامهٔ عصر و اهل دول بود، و این حقیر نیز از سلسلهٔ ملازمان او ملازم بود، اتمام یافت."[1]

## (۲۰) د اکبر دیوان

تر اوسه موږ ته دا شاعر او دیوان نه و معلوم، د برطانیا په موزیم کښې په (OR-4230) دغه نسخه ضبط ده، تقطیع ئې (۵,۵x۸,۲۵) انچه ده او ۱۰۱ مخه ده، دا اتلسمي عیسوی پیړي په پای کښې لیکلې شوې، او د ډارمسټټر په کلکسیون اړه لری.

ابتداء ئې دا ده:

چه و پردیس ته د عدم له ښکویه کور راغلې

په خوښه راغلې، که حضور د چا په زور راغلې

په ارادت کښې ئې خو استلی وې په مینه څه وه

لکه آفتاب چه له پردې د سپینو تور راغلې

په عاقبت د مینی نه پوهیدې زده دی نه و

لکه پتنګ هسی پر سرو لنبو د اور راغلې[2]

د شاعر وخت او سوانح هیڅ ندی معلوم، دیوان غیر مرتب لیکل شوی دي، او دغه برخي لری: له ۱ تر ۵۳ مخه د امام قصه. له ۵۳ تر ۵۹ مخه دوه

۱. د فهرست ۲٤ مخ.

۲. دغه اشعار غلط چاپ شوی وه، ما اصلاح کړل.

شعره د خدای تعالی په ثناء کښې. له ٦٠ تر ٦٦ مخه د خدای تعالی اسماء الحسنی له ٦٦ تر ٧٣ مخه رباعیات، له ٧٣ تر ٩٣ مخه غزلیات، له ٩٣ تر ١٠١ مخه دینی اشعار.[١]

## (٢١) د عبدالقادر خان قصیدهٔ برده

په (OR-4233) نمبر د برطانیه په موزیم کښې دا کتاب موجود دی، ٥٠ مخه لري، (٥,٥x١٢,٢٥) انچه تقطیع لری، هر مخ ئې له ١٣ تر ٢٤ لیکي دي، د ډارمسټېټر له کلکسیونه ګڼل کیږي، دمخه د دغه کتاب وجود موږ ته نه و معلوم، په قندهار کښې چه ما په ١٢١٧ش د عبدالقادر خان دیوان چاپاوه، د ده په تألیفاتو کښې دغه کتاب ندی ذکر شوي.

دا قصیده د محمد ابن سعید البوصیری له عربی قصیدې څخه په هغه عربی قافیه نظماً ترجمه شوې ده، لمړی بیتونه ئې دا دي:

در پوهیږم زړه در یاد کړ، بیل یاران دذی سلم
چه هر دم دی له دوو سترګو اوښي ځي ور سره دم
لا د یار د کوی د خاوري بوي نسیم در لره راوړ
یا...د یار لوری بریښنا وشوه په تور تم

دا نسخه تاریخ نلري، اود قصیدې په پاي کښې ناظم خپل نوم هم ذکر کوي.[٢]

١. د فهرست ٢٥ مخ.
٢. د فهرست ٢٥ مخ.

## (۲۲) د بانو جان آثار

بابو جان ما په پښتانه شعراء (ج۱) کښي ذکر کړی دی، مګر دلته ئې ځيني آثار نور ښودل شوي دي، د برطانيا په موزيم تر (OR-397) نمبر لاندي د ده يو کتاب شته، جه ۹۲ مخه دی او د هملټون په کلکسيون اړه لري، د ده يو بل اثر دعای سريانی ده، چه د ډورن په Chrestomathy په ص ۳۷٤-۳۸٦ کښې راغلی ده.

د بابو جان يو اثر قصهٔ بابوجان په انديا آفس لايبريری کښې هم شته، دا بيتونه د ده دکتاب په پاي کښې شته:

ظالمان به د آتش په ګرزو هل شي هم خيری به ئې په شاړه وي له ناره
د اميد ځای پاتو کم شو بابو جانه خلقو لاس په بدی ونيوه يکباره[1]

## (۲۳) د معزالله خان ديوان

د مخه فقط د مستر هيوز له کليد افغانی څخه د دې شاعر يو شعر موږ ته معلوم و. د ده ديوان د بريطانيا په موزيم کښې په (OR-2827) نمبر ضبط دي، چه د هيوز لپاره په ٥ د فروری ۱۸۷۲ع غلام جيلانی پيښوری کښلي دي.

هيوز پر دغه ديوان يو ياداشت کښلي دي، چه معزالله خان په يوه کلی کښې اوسيدي چه کوټه نوميږي، او له پيښوره دوه ميله ليري دي.

ديوان تول ۸۰ مخه (۷x۱۰,۷٥) انچه په تقطيع دی، د ابتداء بيتونه ئې دا دی:

---

۱. د فهرست ۲٥ مخ.

چه صانع د هر مصنوع دی رب ځما
چه وجود ئې له عدمه کړ پیدا
له قطرې نه هسي ښکلی بشر جوړ کا
چه ادا ئې د تعریف نه شی له چا
یو سړی چه په صورت د بل یو نه دی
له جمیع حکمتونو دی یو دا[1]

## (۲٤) د ابوالقاسم دیوان

په نمبر (OR-2826) د ابو القاسم دیوان ضبط، او ټول ۷۹ مخه په (۷,٥x۱۱) انچه تقطیع دی، هر مخ ۱٥ لیکي لری، چه نسخهٔ د مستر هیوز لپاره په ۱۸۸۲ع د محمد حسن په خط په پیښور کښې لیکلې شوې ده.

د شاعر نور هیڅ احوال نه ښکاری، فقط هیوز دغونی وایي، چه دی د پیښور اوسیدونکی و خو د ژوندانه وخت ئې ندی راته معلوم، د کتاب ابتداء:

بیا ګل ګشت ته شه روان نګار ځما
نه کا هیڅ فکر تدبیر د کار ځما
رقیب ځکه ځما اوښي پاکیزه کړې
خوښ ئې نه دی هیڅ آبروی وقار ځما
راز چه ورسي تر دوه کسه رسوا شي
دوه لیمه کړړ را ښکاره اسرار ځما[2]

۱. د فهرست ۲٦ مخ.
۲. د فهرست ۲٦ مخ.

## (۲۵) ګلدسته

دا کتاب د عبدالقادر خان په ترجمو کښې موږ ته معلوم و مګر پوره نسخه ئې نه وه راته معلومه. د بریطانیا په موزیم کښې په (OR-4504) نمبر دا کتاب شته، ۱۲۹ مخه لری تقطیع ئې (۵,۲۵x۹,۲۵) انچه دی، هر مخ ۱٤ لیکی په ۳,۵ انچه اوږوالی لری دا کتاب د سعدی د ګلستان ترجمه ده، ابتدا ئې داسی ده:

"منت دي خدای لره چه غالب او لوی دی، او عبادت ئې سبب د نزدیکت دی، او په شکر د ده کښې زیادت والي د نعمت دی، هر نفس چه ښکته ځي، مدد ور کوونکي د حیات دی، او هر کله چه پورته راځي فرصت رسونکي د ذات دی، پس په هر نفس کښې دوه نعمته موجود دي او په هر نعمت شکر واجب دی."

تر ترجمې دمخه پخپله عبدالقادر خان په ۵ مخه کښې منثوره او منظومه مقدمه لیکي او داسی وایي: "چه د تقدیر په امر په ۱۱۲٤ه، ۱۷۱۲ع زه د غم او اندوه په کوډله په نوشهره کښې اوسیدم، او هلته مي د زړه د تسلیت او مشغولیت لپاره د شیخ سعدی د ګلستان په ترجمه شروع وکړه، نوم می ګلدسته پر کښیښو."

لکه د کتاب په پای کښې چه د اتمام نیټه په شعر کښې لیکلې شوې ده، هم په هغه ۱۱۲٤ه کال د ګلستان ترجمه ختم شوې ده، نو ګویا دا کتاب د اشرف خان تر مرګ ۱٦۹۳ع وروسته ترجمه شوی دي، چه افصل خان د خټکو مشر و.

په دغه وخت کښې عبدالقادر خان ٦٠ کلن، او د خپل وراره په حکم نفی شوی، او په نوشهره کښې اوسیدی، کتاب د سعدی د ګلستان اته بابه لری، او پوره ندی طبع شوی، د نسخې په پای کښې هسي ليکلي دي:

"ثنا ده خدای لره چه دا کتاب ګلستان تصنیف تالیف د عبدالقادر خان زوی د خوشحال خان خټک په سعی د قلم خام رقم د دې بنده سراپا سقیم سید عظیم سره په سن دولس سوه یو اویا ١٢٧١ه کښې چه شمار شهر اوس پينځ ويشتم د رمضان المبارک ده، اتمام او اختتام ئې بیا موند."

دې نسخې په مستر راورټی اړه درلوده، خو یوه بله نسخه په (OR-2828) نمبر هم شته چه په ١٨٧٢ع د هیوز لپاره د علام جیلانی پیښوری په خط لیکلې شوې، او ټوله ١١٨ مخه ده.[١]

## (٢٦) د صدر خان آدم خان او درخانۍ

دا نسخه په (OR-4502) په ٧٠ مخه په (٦x٨,٢٥) انچه تقطیع د بریطانیا په موزیم کښې شته، او د میجر راورټی په مجموعه اړه لري. ابتدا ئې داسي ده:

ربه زړه ځما چمن کړه   د تا یاد په کښې ګلشن کړه
استخوان می پنبه زار کړه   پکښې اور د عشق انوار کړه
هغه اور په ما لنبه کړه   خاکستر می دا پنبه کړه
ځما زړه لکه لاله کړه   د زړه ویني مي پیاله کړه

١. د فهرست ٢٨ مخ.

صدر خان د خوشحال خان زوی او د عبدالقادر خان ورور و، دغه قصه په یوسفزو او سوات کښې ډېره مشهوره ده، میجر راورتی وایي: چه فخرالدین صاحبزاده هم په نظم لیکلې ده.[۱] بله نسخه یې هم په دهلی کښې په ۱۸۸۳ع د اکبر شاه پیښوری له خوا نشر شوې ده، اما مهشور ډول د منثورې قصې ئې په پیښور کښې په ۱۸۷۲ع د مولوی احمد (تنګی، اشنغر) له خوا خپور شوی دي، او دی ئې په مقدمه کښې وایي: چه دا قصه په رشتیا هم وقوعی ده، او درخانۍ د سوات د سرحد د کوزی باز درې د کلی د خان لور وه، او آدم خان د باز درۀ بالا د یوه مشر زوی و. اکثر وقایع ئې په دغو کلو، او هم اکوړې ته نژدې د کابل د رود پر غاړه د مسری بندا په کلي کښې پیش شوي دي، او هم په بل کلي کښې چه تولنډی نومیږي.[۲] صدر خان دیوان هم لری، او د دلی قصه ئې هم منظومه کړې ده، او د نظامی د خسرو و شیرین ترجمه ئې هم له پاړسو څخه په پښتو کړیده، د ده یو څو غزلی په پښتو منتخباتو کښې هم را نقل شوي دي (په کلید افغانی کښې د هیوز له خوا).

مؤلف د کتاب ختم نیټه د (قیبغاد) په حروفو کښې ښیی، چه ۱۱۱۷هـ د ابجد په حساب کیږي، او وایي، چه زما عمر دغه وخت ۵۳ و د (جیم) په ابجدی قیمت، نو له دغه حسابه دی په ۱۰٦٤هـ، ۱٦٥٤ع زوکړی دي. د کتاب پاي:

راغ حاسد زغن جاهل دی — بلبل څوک؟ دردمن عاقل دی
س قیبغاد د بلبلو لا وه — جیم عمر نن ځما وه
دا کتاب د عاشقانو — چه ما نظم کړ یارانو[۳]

۱. د راورټی د پښتو ګرامر مقدمه ص ۳۳.
۲. د الفنستون د کابل حوادث ص ۲٤٤ د ۱۸۹۳ طبع لندن.
۳. د فهرست ۲۹ مخ.

## (۲۷) د دلی او شهۍ قصه

دا کتاب په (OR-2825) بمبر، په ٤٤ مخه (٦x٩,٥) انچه تقطیع موجود دی، د هر مخ لیکي ئې ۱۵ دی، چه طول ئې ٤,٥ انچه کیږی، په ۱۸۷۱ع د اګسټ په اتم تاریخ د هیوز لپاره غلام جیلانی پیښوری کښلی دي. مؤلف ئې هغه صدر خان خټک دی، او هسی وایی چه شهۍ د حیات خان لور وه، د کتاب ابتداء داسي ده:

پسله حمده له درووده تحیاته
د ماضی مینو حال دی غوږ کړه ما ته
دا قصه چه زه ئې وایم بې نظیره
اوریدلې ده دا ما له یوه پیره
یو کهنه دیرینه سال پیر کلان و
ګرزیدلۍ په هر لوری په جهان و
ډیر عاقل روشن ضمیر و سخن سنج و
ډیر فاضل سخن امیر و معدن ګنج و

د کتاب پاي:

ښه رنګ تم شوه سن ئې دا دی اشکاله[1]
د شهی دلی قصه تمامه لاله
ښه چه تم شه د شهۍ دلی کتاب[2]
څما زړه پسې لړزان و ډیر خراب

۱. په دې بیت (اشکاله) نه معلومیږی چه مقصد ئې څه دي.
۲. د فهرست ۳۰ مخ.

## (۲۸) علم خانهٔ دانش

دا کتاب په (OR-4506) نمبر په ۹۰ مخه (۷x۱۲,۵) انچه تقطیع موجود، او د هر مخ لیکي ۱۹ په څلورنیم انچه اوږدوالی دي. د میجر راورتی له کلکسیونه دی، او په نونسمه پیړۍ کښې لیکل شوی ښکاري.

دا کتاب محمد افصل خان خټک د اشرف خان زوی له پارسی عیار دانش څخه ترجمه کړی او په مقدمه کښې وایي: چه د عمر پر ۵۳ کال می په ترجمه شروع کړیده، عیار دانش د ابو الفضل منظوم اثر دي، چه د واعظ کاشفی له انوار سهیلی څخه ئې منظوم کړی دي، دا نسخه د څلورم باب له منځه شروع کیږی، له دې کتاب چه د ډورن په کرسټوماتهی کښې کومی برخي نقل شوي دي، په غلط ملک خوشحال خان ته منسوبی شوي دي.

د کتاب آغاز:

دا آغاز دی په نامه د هغه خدای چه بې ځایه دی بې مثله رهنمای
په تخلقو او خلق ته رهمنون دی فا ستقم کما امرت ... [۱]

د دې کتاب یوه قلمی نسخه او مکمله په کابل کښې شته، په پښتانه شعراء (ج۱، ص ۲۳۰) کښې ما تفصیل لیکلي دي.

## (۲۹) ګلستان

دا نسخه په (OR-4505) نمبر په ۱۲۹ پاڼی کښې په (۷,۷۵x۱۲,۷۵) انچه تقطیع، او هر مخ ۱۵ لیکیز موجوده ده، د راورټی په کتابو اړه لری، د سعدی ګلستان امیر محمد انضاری ترجمه کړی دي.

۱. د فهرست ۳۰ مخ.

د دې مؤلف احوال هيڅ ندي معلوم. راورټي پخپل يوه ياداشت کښې کښلي دي چه دا نسخه ډېره غلطه ده، زه فقط يوه بله نسخه هم له دې کتابه درک لرم.

د کتاب آغاز: "همه واړه ثنا و صفت او کل احسان و منت هغه لوی قادر څښتن تعالی لره، چه طاعت ئې سبب د قربت دي، او د ده په شکر کښې زياتی د نعمت هر يو ساه چه په ښکته درومی، اوړده وونی د حيات دي او هر کله چه پورته راشي خوشحالو ونی د ذات، يعنی د ځان دي. پس په هر يوه ساه کښې دوه نعمتونه موجود دي او په هر يوه نعمت ئې شکر واجب."

د کتاب پای: مترجم اين گلستان امير محمد بن مير محمد انصاری عفی عنهما، باتمام رسيد در دارالامارهٔ کلکته سنه ۱۲۲۷ هجری قدسی.[۱]

## (۳۰) غلام محمد او فياض

د دې دواړو ذکر په پښتانه شعراء (ج۱) کښې راغلي دي، او هغه کتب چه د دوی په نامه هلته ذکر شوي دي په بريټش موزيم کښې هم شته، فقط دلته موږ د کتابو له نيټو څخه دوني استفاده کولاي شو چه د شاعرانو د حيات دوره لږ څه ځيني ټاکله کيږي، نو ئې دلته راوړو:

د غلام محمد د سيف الملوک قصه چه نمبر ئې (OR-398) دی، په ۱۲۱۵هـ، ۱۸۰۰ع ليکلی شوې، او د هملټون له مجموعې څخه ده.

۱. د فهرست ۳۱ مخ.

بله نسخه ئې د فیاض د بهرام گور له قصې سره یو ځای په ربیع الاول ۱۲۷۱هـ د سراج الدین قاضی زاده ساکن ملتان په خط ده، چه د راورټي په مجموعه اړه لري.[۱]

## (۳۱) د معین الدین عذر اوامق

دا کتاب تر (OR-4500) نمبر لاندي موجود، او ۹۳ مخه دی، چه تقطیع ئې (۶,۵x۹) انچه کیږی، هر مخ ۱۳ لیکی او هره لیکه ٤,٥ انچه اوږده ده.

اصل کتاب د حاجی محمد حسین شیرازی له پارسی نسخې څخه نظماً په پښتو ترجمه شوی دي، او داسي ښکاري، چه پخپله د مترجم په خط دی په ۱۲۵۶هـ، ۱۸٤۰ع ئې د ترجمې له کاره فارغ شوی دي. او د میجر راورټي د کتابو په مجموعه اړه لري.

معین الدین په یوه پارسی لیک کښې هسي وایي: چه دی د چارسدې (اشنغر) میشت دي، او دا ترجمه ئې د اتمام[۲] په کلی کښې تمامه کړیده.

د کتاب پیل:

دا آغاز مي په نامه د پاک خالق دی
چه په عشق ئې د عذرا سوي وامق دی
شنې ماڼي ئې په کړې اویرانده
یو د بل په سر ولاړی لاندی باندې

۱. د فهرست ۳۲ مخ.
۲. په اصلی نسخه کښې انمان ویل کیږی، ښایي چه اتمان وي.

چه قدرت ئې د مخلوق په بهبود راغئ

له پردې د عدم ځکه وجود راغی

د کتاب پاي:

"تمت تمام شد کتاب عذر اوامق از دست فقیر حقیر پر تقصیر خاکپای عالمان معین الدین. این کتاب برای پاس خاطر یاران و اشنایان تصنیف کرده، که متوطن به هشت نگر خصوصاً چهار سده است، و تمام یافت این کتاب در قریه انمان (؟) زیر در مسجد پرهوس (؟) در وقت پیشین بروز جمعه در ماه ذوالقعده..."[۱]

## (۳۲) پښتو متلونه

په نمبر (OR-2832) په ۲۷ مخه کښې د بریطانیا په موزیم کښې شته، او تقطیع (۷,۲۵x۱۱) انچه ده، د مخو لیکو ئې ۱۵ دي، او د هیوز لپاره غلام جیلانی پیښوری د فروری په اولسمه ۱۸۷۵ع کال لیکلی دي.

دا کتاب د پښتو متلونه دي، چه د الفباء پر ردیف برابر د مولوی سید احمد نومی له خوا په کوهات کښې ټول شوي، او ترتیب شوي دي. کتاب داسي شروع کیږي.

"اوړی ته چا ووې چه څلور او څلور څو کیږی ـ وې اته ډوډۍ."

"ادې لیونۍ په ژمي کښې باټنګن غواري."

"ادې په سمه او کډه ئې په سوات."

مسټر هیوز پر دغه کتاب داسی یاد داشت لیکلي دی: "شپړ سوه نه اویا پښتو متلونه دی، چه پر الفبا ئې ردیف سم مولوی سید احمد د کوهاټ د

۱. د فهرست ۳۲ مخ.

یوسفزو د کلی امام ترتیب کړی دي، دی د کوهاټ د مشهور ملا زوی و، چه د سوات د مشهور اخوند صاحب خلیفه بلل کیدي." [1]

******

د بریطانیا د موزیم له فهرسته دغوني نوي معلومات لاس ته راغلل، چه په لوړه مقاله کښې وکښل شوه، دا معلومات زموږ د پښتو شاعرانو او د پښتو ادب معلومات څه نه څه را مکمل کوی.

کابل ۳۰ عقرب ۱۳۲۳ (عبدالحی حبیبی)

۱. د فهرست ۳٤ مخ.